# د یتیم د کفالت او پالنې فضیلت

مفتي فیصل خاموش

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس

د اسلام سپیڅلي دین د یتیمانو پالنې ته هڅونه کړې ګڼ شمیر فضایل یې بیان کړي نو ځکه خو ډیری محدثینو او فقهاء کرامو په خپلو کتابونو کې په بیلا بیلو عنوانو او عبارتونو سره بابونه راوړي ځینو یې مختصر او ځینو نورو بیا وربانديې تفصیلي بحث او ددوی اړوند مسائل یې ډیر ښه روښانه کړي د ټولو مقصد او مرام یو دی هغه دا چې په ټولنه کې د یتیم سره ښیګڼه د الله (ج) د رضا سبب ګرځي او الله (ج) بنده ګانو ته له یتیم سره دلطف ، مهربانی سپارښتنه کړې همدا راز پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یتیم پالونکي ته جنت کې د ډېر نږدیوالي زیری ورکړی دا چې زمونږ ګران هیواد افغانستان یو داسې هیواد دی چې د نورو هیوادونو په نسبت دلته د یتیمانو شمېره ډیره لوړه ده ځینې داسې کورنۍ هم شته چې په یو کور کې د کونډو او یتیمانو شمېره دیرشو (۳۰) ته رسیږي په هر کلي او ښار کې داسې یتیمان شتون لري چې د غربت او فقر کیسې یې د سړي زړه ته ټکان ورکوي بناء دغې مهمې موضوع ته له داخلیدو وړاندې لومړی باید یتیم وپیژنو تر څو یې د حقوقو د ادا کولو په موخه مسلمانان وهڅوو.

یتیم چا ته ویل کیږي؟
یتیم په لغت کې یواځي والي او انفراد په معنی دی او په اصطلاح کې هغه چاته ویل کیږي چې بلوغ ته له رسیدو مخکې یې پلار مړ شوی وي برابره خبره ده غریب وي او که مالداره د فقهې مشهورعلماء کرامو لکه علامه عبدالله بن محمود او علامه ابن نجیم رحمه الله په خپلو کتابونو کې داسې تعریف کړی:
وَالْيَتِيمُ: كُلُّ مَنْ مَاتَ أَبُوهُ وَلَمْ يَبْلُغِ الْحُلُمَ، غَنِيًّا كَانَ أَوْ فَقِيرًا (( الاختیار لتعلیل المختار ۸۰/۵ البحرالرائق ۵۱۲/۸
همدا راز د شریعت له مخې یتیم د بلوغ تر وخته پورې یتیم بللی شي، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: لَا يُتْمَ بَعْدَ الِاحْتِلَامِ ( ابو داود ۱۱۵/۳
عثمان بن علی الزیلعي په خپل کتاب کې لیکلي :چې یتیم په حقیقت کې د هغه کوچني نوم دی چې بلوغ ته نه وي رسیدلی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي له بلوغ وروسته یتیمتوب نشته او دا خبره علامه بدرالدین عیني رحمه الله په خپل کتاب (( عمدة القاري ۱۵۴/۶)) او نورو ډیرو علماء کرامو ذکر کړې

ده. د امام ابویوسف او محمد رحمهم الله په اند پنځلس (۱۵) کلونو په پوره کیدو سره هلک او انجلۍ د دواړو لپاره د بلوغ حکم کیدلای شي که چیرته له دې مخکې د بلوغ نښې نښانې ښکاره شي بیا له هماغه وخته بالغ ګڼلی شي برابره خبره ده چې پنځلس کلونه یې پوره کړي وي او یا نه علامه شامي رحمه الله او ځینو نورو علماء کرامو دا قول مفتي به ګڼلی ده ، خو په عامه توګه هلک له دولس (۱۲) کلنۍ مخکې او جینۍ له نهه (۹) کلنۍ مخکې بلوغ ته نه رسیږي او نه هم وربانديې د بلوغ کومه علامه څرګندیږي.

)بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ ) وَالْأَصْلُ هُوَ الْإِنْزَالُ ( وَالْجَارِيَةِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْحَيْضِ وَالْحَبَلِ ) وَلَمْ يَذْكُرْ الْإِنْزَالَ صَرِيحًا لِأَنَّهُ قَلَّمَا يُعْلَمُ مِنْهَا ( فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فِيهِمَا ) شَيْءٌ ( فَحَتَّى يَتِمَّ لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً بِهِ يُفْتَى ) لِقِصَرِ أَعْمَارِ أَهْلِ زَمَانِنَا ( وَأَدْنَى مُدَّتِهِ لَهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ سَنَةً وَلَهَا تِسْعُ سِنِينَ هُوَ الْمُخْتَارُ رد المختار ۱۶۷/۲۵
همدا راز په داسې صورت کې امام ابو حنيفه رحمه الله په اند هلک چې کله اتلس (۱۸) کلونه او انجلۍ چې کله اولس (۱۷) کلونه بشپړ کړي د بلوغ حکم وربانديې کیدلی شي او دا رأیه ( ۱۸) کلونه د ابن عباس رضي الله عنه هم ده خو ځینو نورو علماء کرامو د بلوغ حد د کلونو په حساب نولس (۱۹) دوه ویشت (۲۲) او پنځه ویشت (۲۵) کلونه هم ټاکلي دي خو علامه عبیدالله بن مسعود (رح) په شرح الوقایه (۱۴/۷) کې امام ابن الهمام (رح) په فتح القدير ( ۳۰/۲۱) علامه شیخي زاده (رح) په مجمع الانهر (۶۰/۴) علامه فخر الدين الزيلعي (رح) په تبيين الحقائق(۲۰۳/۵) علامه عبد الله بن محمود ابوالفضل (رح) په الاختيار لتعليل المختار( ۹۵/۲) کې همدا راز ځینې نور علماء کرام وايي : چې احتياط په دې کې ده چې د یتیم لپاره د اتلس ۱۸ کلونو عمر وټاکل شي.
قَالَ ( بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ إذَا وَطِئَ ، فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً ، وَبُلُوغُ الْجَارِيَةِ بِالْحَيْضِ وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ ، فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً ) ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا : إذَا تَمَّ الْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَقَدْ بَلَغَا...... وَلَهُ قَوْله تَعَالَى { حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ } وَأَشُدُّ الصَّبِيِّ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً ، هَكَذَا قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَتَابَعَهُ الْقُتَبِيُّ ، وَهَذَا أَقَلُّ مَا قِيلَ فِيهِ فَيُبْتَنَى الْحُكْمُ عَلَيْهِ لِلتَّيَقُّنِ بِهِ .... وَالْحَقُّ فِي أَصْلِ التَّعْلِيلِ أَنْ يُقَالَ : وَهَذَا أَقَلُّ مَا قِيلَ فِيهِ ، فَيُبْتَنَى الْحُكْمُ عَلَيْهِ لِلِاحْتِيَاطِ كَمَا وَقَعَ فِي الْكَافِي وَالتَّبْيِينِ ، إلَّا أَنَّهُ قَالَ فِي الْكَافِي بَعْدَ قَوْلِهِ لِلِاحْتِيَاطِ : وَلِأَنَّهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ ، وَأَمَّا فِي التَّبْيِينِ فَقَدْ اكْتَفَى بِقَوْلِهِ لِلِاحْتِيَاطِ وَهُوَ الْأَصْوَبُ . فتح القدير (۳۹/۲۱

د یتیم د کفالت فضیلت
د یتیم موضوع په شریعت کې ډېر زیات ارزښت او اهمیت لري یواځې په قرآن کریم کې الله (ج) دوه ویشت (۲۲) ځایه د یتیم موضوع ذکر کړې او له مسلمانانو څخه یې غوښتنه کړې چې په ناحقه د یتیمانو مالونه مه خورئ، له دوی سره ښې خبرې وکړئ، احسان ورسره وکړئ ،غصه مه ورباندې کوئ او دې ته ورته د دوی اړوند نور ډېر موضوعات یې ذکر کړي، همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په ډېرو حدیثونو کې د یتیم پالنې د فضیلت اوثواب په باب امت مسلمه ته سپارښتنه کړې چې د یتیم پوره پوره خیال وساتي او ښه سالمه تربیه او کفالت یې وکړي الله (ج) به یې په جنت کې له ماسره یوځای کړي مونږ به دلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د څو حدیثونو په رڼا کې د موضوع وضاحت وکړو.
حدیث:
عَنْ سَهْلٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا. صحيح البخاري) ۳۵/۷(
له حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: زه او د یتیم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې سره نږدې یو، رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو دوو شهادت او منځنۍ ګوتو باندې اشاره وکړه او دواړو ګوتو ترمنځ یې لږ فاصله وکړه.

پورتنی صحیح حدیث په نورو ډیرو کتابونو کې د متن په لږ شان توپیر سره راغلی لکه سنن الترمذي (۳/ ۲۱۵) السنن الکبري ۲۸۳/۶ سنن أبی داود ۶۴/۵ صحیح ابن حبان ۱۹۴/۳ مسند احمد ۳۳۳/۵.

علامه ابن بطال رحمه الله د پورتني حدیث په شرحه کې لیکلي: چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث واوریده په ده لازمه ده چې عمل ورباندې وکړي ترڅو په جنت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د انبیاء کرامو او رسولانو علیهم السلام ملګری شي. او په اخرت کې د انبیاء کرامو علیهم السلام له ملګرتیا غوره مرتبه نشته . حق على كل مؤمن يسمع هذا الحديث أن يرغب فى العمل به ليكون فى الجنة رفيقًا للنبى عليه السلام ولجماعة النبيين والمرسلين – صلوات الله عليهم أجمعين – ولا منزلة عند الله فى الآخرة أفضل من مرافقة الأنبياء. شرح البخاري لابن بطال) ۱۸ /۱۱۱.(

حافظ ابن حجر رحمه الله هم د پورتني حدیث په شرحه کې د ده قول راوړی او بیا وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو دوه ګوتو په منځ کې لږ شان

جداوالی وکړ اشاره دې خبرې ته ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د یتیم کفیل او پالونکي ترمنځ په مرتبه کې لږ شان توپیر شته لکه څنګه چې د دغو دواړو ګوتو ترمنځ توپیر شتون لري.

وفرج بينهما أي بين السبابة والوسطى وفيه إشارة إلى أن بين درجة النبي صلى الله عليه وسلم
وكافل اليتيم قدر تفاوت ما بين السبابة والوسطى. فتح الباري لابن حجر) ۴ /۲۳۷(
حافظ ابن حجر رحمه الله دا هم وايي: چې دا احتمال لري چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د يتيم د کفيل او پالونکي مرتبه او درجه به سره نژدې وي لکه څنګه چې د شهادت او منځنۍ ګوتې ترمنځ بله ګوته شتون نه لري او دواړه ګوتې سره نژدې دي. ويكفي في اثبات قرب المنزلة من المنزلة أنه ليس بين الوسطى والسبابة إصبع أخرى. فتح الباري لابن حجر(228 /4)
او دا خبره ډيرى محدثينو په خپلو کتابونو کې ذکر کړې فيض القدير ۱۳۴/۱۱ تحفة الاحوذي ۴۰/۱۱ عون المعبود: ۴۱/۱۴ شرح الزرقاني ۴۲۹/۴
علامه نووي رحمه الله د پورتني حديث په شرحه کي ليکي: د يتيم کفالت دې ته وايي؛ چې يو څوک د يتيم حاجتونه او ضرورتونه پوره کړي لکه خوراک، څښاک ، جامه، ادب او تربيه کول دي او دغه فضيلت هغه چاته حاصليږي چې له خپل مال څخه او يا د يتيم له مال څخه دده ښه کفالت وکړي.

كافل اليتيم القائم بأموره من نفقة وكسوة وتأديب وتربية وغير ذلك وهذه الفضيلة تحصل لمن كفله من مال نفسه أو من مال اليتيم . شرح النووي على مسلم) ۱۸ / ۱۱۳(
حديث:
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ قَالَ :خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ سنن ابن ماجه (۲/ ۱۲۱۳) فيض القدير: (۴۴۶/۵ ) مشكاة المصابيح) :۷۸/۳(
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په مسلمانانو کې تر ټولو غوره کور هغه دی چې له يتيم سره په کې ښه چلند کيږي او د مسلمانانو په کور کې تر ټولو بد کور هغه دی چې له يتيم سره په کې ناوړه چلند کيږي.
ملا علي قاري رحمه الله دپورتني حديث په شرحه کې ليکي: د تاديب (تربــيې) او د قرآن کريم د زده کړې په خاطر د يتيم وهل روا دي، اودا له يتيم سره معنوي احسان کول دي که څه هم په ظاهره ضرر معلوميږي او که د يتيم وهل د زده کړې او يا د تاديب په خاطر نه وي بيا يې وهل ناروا دي.

فإن ضربه للتأديب وتعليم القرآن جائز فهما داخلان في الإحسان معنى وإن كان في الصورة إساءة والعكس عكس . مرقاة المفاتيح) ۱۴/۲۶۳-(

حديث:

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : " من مسح رأس يتيم لم يمسحه إلالله كان له بكل شعرة تمر عليها يده حسنات ومن أحسن إلى يتيمة أو يتيم عنده كنت أنا وهو في الجنة كهاتين " وقرن بين اصبعيه . مسند احمد (۳۴/۹ ) مشكاة المصابيح (۷۸/۳ له حضرت ابو امامة رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر هغه څوک چې د يتيم په سرلاس خاص دالله (ج) لپاره تير کړي، په هر څومره ويښتانو يې چې دده لاس تير شوى وي، همدومره نيکي ده ته ورکول کيږي، او هر هغه څوک چې يتيم هلک يا انجلۍ د ده سره اوسيږي احسان ورسره وکړي زه او دى به په جنت کې دارنګه يو( رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې دوه ګوتې سره ملګرې کړې(

که څه هم حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل کتاب فتح الباري (۱۵۱/۱۱ کې فرمايي: چې دا حديث ضعيف دى . خو د فضائلو په باب کې دا ډول حديث د ډيرى محدثينو په اند مقبول دى مطلب دا چې په ضعيف حديث سره استحباب او هغه کراهت چې په درجه د استحباب کې وي ثابتيدلى شي علامه ابن الهمام رحمه الله فرمايي: چې استحباب په ضعيف سره ثابتيدلى شي نه په موضوعي سره: الاستحباب يثبت بالضعيف غير الموضوع . فتح القدير: ۹۵/۲ او دا رأيه د نورو ډيرو محدثينو هم ده او په خپلو کتابونو کې يې ذکر کړې لکه ملا علي قاري رحمه الله په موضوعات الکبرای( ۲۰۹) عـلامه ل کهنوي رحـمه الله پ. ه ظ فرالاماني( ۱۹۸ علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله په قواعد في علوم الحديث ۱۱۰ او داسې نور.

حديث:

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من عال ثلاثة من الأيتام كان كمن قام ليلة وصام نهاره وغدا وراح شاهرا سيفه في سبيل الله وكنت أنا وهو في الجنة أخوين كهاتين أختان وألصق إصبعيه السبابة والوسطى. ابن ماجه (۲/ ۱۲۱۳رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: څوک چې د دريو يتيمانو سرپرستي کوي، داسې دي لکه دشپې چې لمونځونه او د ورځې روژې نيسي او سهار ماښام توره په لاس د الله(ج) په لار کې جهاد کوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم دوې ګوتې سره يوځای کړې او ويې فرمايل: زه او ديتيم کفالت کوونکی به داسې په جنت کې يو ځای يو.

حديث:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ : أَنَّ رَجُلاً شَكَا إِلَى النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ :«

إِنْ أَرَدْتَ أَنْ يَلِينَ قَلْبُكَ فَأَطْعِمِ الْمَسَاكِينَ وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ.السنن  الكبرای(۶۰/۴) مسنداحمد(۲۶۳/۲) فتح الباری) :۳۵۲/۵(
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو کس د زړه له سختوالي شکایت وکړ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: که غواړې چې زړه دي نرم شي، مسکین ته خوراک ورکړه او د یتیم سر مسحه کړه.
علامه یوسف بن عبد الرحمن بن یوسف په خپل کتاب کې د یو عابد په نامه د عميرة بن أبي ناجية د ترجمې په ترڅ کې دده اړوند یوه کیسه هم ذکر کړې ده، فرمايي: چې دی ډیر پرهیزګاره او عابد انسان وو، کله به یې چې تلاوت کاوه ژړل به یې،کله به یې چې لمونځ کاوه ژړل به یې، او کله چې به له تلاوت او لمونځ څخه فارغ شو ژړل به یې،یوه ورځ همدغه صالح او پرهیزګاره بنده یو یتیم راوغوښت ډوډۍ یې ورکړه د څکلو اوبه یې ورکړې او سر یې ورغوړ کړ او بیا یې داسې دعا وکړه: ای زما ربه زما د دې کار په ثواب کې زما مور او پلار راسره شریکان کړې، کله چې اوده شو مور او پلار یې په خوب کې ولیدل، او له دوی سره هغه یتیم ناست وو، مور او پلار یې ده ته داسې وویل: چې ای زویه ددې یتیم پر مونږ باندې ډېر لوی برکتونه دي. تهذیب الکمال) :۴۰۱/۲۲(

دا چې مقاله را څخه نوره اوږده نشي، په پای کې وایم چې الحمد لله د افغانستان اسلامي امارت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ټول یتیمان هغه که د اسلامي امارت د سپیڅلو شهیدانو یتیمانو وي او که د تیرې ادارې د هغو نظامي عسکرو یتیمان چې د اسلامي امارت له سپیڅلو مجاهدینو سره دا شل کاله په جنګ کې ښکیل ول، دوی ووژل شول، او که د ملکي شهیدانو یتیمان وي دا ټول ثبت او راجستر کړي او د ثبت سره سره یې دوی ته یوه اندازه مساعدت ( ماهانه) پرته له کوم تبعیضه تاکلې ده او هر کال د ملي بودیجې څخه په میلیاردونو افغانۍ د بانک له لارې دوی ته ورکول کیږي همدا راز ځینو یتیمانو ته یې دحرفوي زده کړو زمینه هم برابره کړې او دا د حکومت یو لوی ستر او نیک اقدام دی همداراز نور اسلامي هیوادونه، مسلمانان ، نړیوالې مؤسسې ، خیریه بنسټونه، د یتیم کفالت او پالنې ته باید جدي پاملرنه وکړي د هغوی لپاره دې بیلابیلې ادارې رامنځته کړې ، یوڅه اندازه مساعدت ( ماهانه) دې ورته وټاکي د دیني عصري او حرفوي زده کړو زمینه دې ورته برابره کړي ترڅو په راتلونکې کې د ټولنې په اوږو بار نشي او الله (ج)به اجر عظیم ور په برخه کړي.